سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۶/۲۸

# مغــرور

ځان چې لوړ له نورو بولی ټیټ همدا دی
کـه ولـی دی کـه ګدا دی که پا چا دی

و ســیله چې ژړیــدل د خنـــدا بــولــی
ډیر نیـمـګړی دی پخپلـه د خنـــدا دی

کبـرجن سره جګړی ته دی راغلي
مُحَمّد دی، که عیســی دی، که مـوسی دی

دُښــمـني یی اســتـبـداد سره ده کـړی
که زردُشت که آهُورا دی که بُــودا دی

انسـانیت د رَبْ ج تحفـه ده علـم نـه دی
نـور مخلوق تـه پـه حرمت باندی بناء دی

بی ادب که د شیطان غونـدی دانـا وی
بی ادب دی چې لعنت سره همـرا دی

"کلیــواله"! پـام چې ځانـتـه غره نشی
مغـرور هر یو په رنځونو مبتـلا دی

که دی ځان درته له نورو لوړ ښکاره شو
فیـصلـه ده د انصاف مرګ دی روا دی